ماشومانو مقدس کتاب
وړاندې کونکے

عیسی او زکای

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2023 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصۍ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

یوه ورځ عیسی د
یریحو نه تېرېدو. دا
ښار یشوع ډېره
موده مخکښې تباه
کړے وو. اوس دا
ښار بیا جوړ شوے
وو او ګڼ شمېر خلق
په کښې اوسېدل. په
هغوئ کښې زکای
نومې یو سړے وو.

کډے شی چې په یریحو زکایۍ د خلقو ډېر نۀ وو خوښ. ځکه چې هغۀ به د هغوئ نه محصول اخستلو. زکایۍ به څۀ پیسې حکومت له ورکولې او ډېر به یې ځان ته پرېښودلې.

محصول اخستل زکای ډپر مالداره کړی. د هغۀ کور په
بنار کښې د ټولو نه لوئ او ښکلے وو.



خو د هغۀ قد ډېر
زيات وړوکے وو، د
مال دولت ورسره
هيڅ کمے نۀ وو، خو
د قد کمے يې وو.
زکای لکه د نورو
خلقو په شان په قد
کښې دنګ نۀ وو.





کله چې زکای ته دا پته ولګی چې عیسی مسیح په یریحو
کښې دے، نو هغه محصول اخستلو والا غوښتل چې هغه
سړے ووینی څوک چې د خدائ پاک د زوئ کپدو دعویٰ خو
هلته ډېر زیاته ګنهه وه... یعنې د اوچت قد خلقو ګنهه وه.

زکای ته یو خیال راغلو! هغۀ
ته دا خیال راغلو کۀ چرې زۀ
د دې ګڼې نه ووځم او وړاندې
یوې ټیټې ونې ته وخپژم نو
عیسی مسیح به ولیدلے شم.

زکای یوې ونې ته وختلو، او په هغه ونه
کښې یې داسې پیدا کړو چې ښځه په آرام سره
په کښې کېښیناستے شی او
هغه هلته کښېناستلو او د
عیسی مسیح انتظار یې کولو.
هغځه سوچ کولو چې زځه به یو
داسې کار وکړم چې د
هغځه لیدو نه بغېر به
زځه هغه وویني.

عیسی مسیح د هغۀ ونې لاندې ولاړ
وو. نو عیسی مسیح زکای ته
وکتل او آواز یې ورته وکړو
زکای لاندې راکوز شه.
د هغه وړوکی قد محصول
اخستلو والا په خپلو
غوږونو باندې
یقین نۀ راتلو.

کۀ زکای په دې باندې حېران شوے وی چې عیسی مسیح هغۀ له آواز ورکړو، نو هغه به نور هم زیات حېران شوے وی چې کله عیسی مسیح هغۀ ته ووئیل، نن، به زۀ ستا په کور کښې مېلمۀ کیږم. زکای دومره په تېزئ سره لاندې راکوزشو چې غورزېدو ته قابو وو.

زکای خوشحاله وو چې عیسی مسیح به د هغۀ کور ته راځی. خو د خلقو دا خبره خوښه نۀ شوه، هغوئ دا شکایت کولو چې عیسی مسیح له نۀ دی په کار چې هغه د زکای په شان ګناه ګار کور ته لاړ شی.



عیسی مسیح زکای له
یو نوے ژوند ورکوی.
زکای ووئیل، چې
مالکه، زهٔ خپل نیم
مال غریبانانو له
ورکوم. او کهٔ چرې
ما د چا نه په دوکه
څهٔ اخستی وی نو زهٔ
به هغوئ له یو په
څلور واپس ورکړم.

عیسی مسیح د زکای په نوی
ژوند باندې خوشحاله وو.
هغۀ به هغه خلقو سره مینه
کوله چا چې به د ګناهونو
نه توبه ویستله او د
صحیح کارونه به یې
کول. عیسی مسیح وائی
چې ابن آدم د روکو شوو
د پیدا کولو او بچ کولو
د پاره راغلے دے. په دغه
ورځ په یریحو کښې عیسی
مسیح زکائی وومندلو.



عیسی او زکای

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصۀ

شته دے

لوقا ۱۹

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولې خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا ربښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲